محمد طاهرجبارخېل

# لوبيا

Phaseolus Vulgaris علمي نوم

Bean انګليسي نوم





Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه:

د زراعت د ضرورت او اهمیت په هکله چې ساینس او د زماني تقاضا یې تائید کوي قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې د دې خبرې اعلان کړی او انسانانو ته یې لارښونه کړې چې پراخو ځمکو او غرونو څخه استفاده وکړی تر څو سوکاله او خوشحاله ژوند وکړي.

پوهیږو چې حبوبات ٪۲۰ پروتین لری او د پروتینو څخه غنی دي او د حبوباتو کښت کولای شی چې د پروتینو کمښت رفع کړي په دې خاطر چې د حیواني پروتینو کمښت په دې وروستیو کې کمښت زیات شوي نو د همدې کبله نباتي پروتینو ته ضرورت لیدل کیږی او د دې بوټو کښت نسبت ترهغه وخت اوس زیات ورته ضرورت لیدل کیږی چې نوموړي بوټي باید په ترتیب سره د کښت لا ندې ونیول شی.

لوبیا د نړۍ د مهمو حبوباتو له جملې څخه دي چې د Fabaceae په کورنۍ پورې اړه لری چې انسانان یې د تغذیی لپاره په مصرف رسوی چې د پروتینو له کبله ډېر غنی دي او د علوفې څخه یې حېوانات استفاده کوی. همدارنگه لوبیا پروتینو څخه علاوه کاربوهایدریت، فایبر، ویټامینونه او څه مقدار شحمیات هم لری چې د انسان د مصرف لپاره د ارزښت وړ دي نن ورځ لوبیا په ټوله نړۍ کې کرل کیږی او ښه په زړه پورې حاصل ترې لاسته راځي. چې په گرمو او معتدلو سیمو کې یې پراختیا موندلې ده اوس زمونږ په هیواد کې هم په مختلفو سیمو کې په مناسب محیطی شرایطو کې کرل کیږی او ښه حاصل ترې لاسته راځي.

هیله ده چې مسلکی مینه وال او کروند گر ورڅخه ښه گټه واخلي.

په درنښت

محمد طاهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا تاریخچه او پیداینښت:History and origin of bean

د ۱۹ پېړۍ په اواخروکې پوهانو د معمولي لوبیا لپاره یوه نوې نړۍ خلاصه وموندله د لاسته راغلو څېړنو او مشاهداتو پر اساس چې لوبیا لومړې له (پیرو) څخه او له هغه وروسته د متحده ایالاتو له جنوب غرب څخه لاسته راغلی دي او (Wetmak) چې د یوه عالم نوم دی په ( ۱۸۸۰ـ ۱۸۸۸ ) م کال کې یې نتیجه واخیسته چې لوبیا له دغې ناحیې څخه منشآ اخیستې ده .

په نړېواله سطحه د لوبیا د کښت لاندې ساحه ( ۲۴ ) میلونه هکتاره ده او په همدې توګه د دانه ایزه نباتاتو په منځ کې یې لومړې مقام ترلاسه کړې .

د لرغون پېژندونکو یادونه او لیکنې د دې څرګندوئ دی چې د لوبیا وحشي ډولونه په امریکا کې شتون لري په اوسنیو وختونو کې پر دې عقیده ده چې لوبیامنشآ مرکزي او جنوبي امریکا ده.

او د نورو کتابونو نظریاتو له مخې هم داسې ښکاري د لوبیا اصلی منشا آسیا ده لینه په دی نظر باندې موافق و ولې ورسته بیایې د( wetmak) نظریه تایید کړه. در لرغون پیژندنې له مخې لوبیا ۴۰۰۰ کاله مخکې په مکزیک کې اهلیشوی دی دغه بوټې اوس هم په پراخه پیمانه سره په مدیترانه ای سیمو کې کرل کیږی.

تر اوسه پورې د لوبیا ډېر ډولونه کرل کیږي چې د هغوی له جملې څخه شني لوبیا د نړیوالو ډېره توجه ځانته جلب کړې ده چې ډېر زیات استعمال لری لکه څرنګه چه مو مخکې وویل د لوبیا اصلې منشاء مرکزی او جنوبی امریکا ده او ۶۰۰۰ کاله مخکې اهلي شوی او د اول ځل لپاره د جوارو سره کرل شوی دي اما د چشم بلبلی لوبیا اصلی منشاء افریقا ده او د سپینې لوبیا منشاء جنوبی امریکا ده.

خنجری لوبیا ۳۰۰۰ کاله مخکې د مکسیکو څخه لاسته راغلی دی. دسرو لوبیا منشاء دهمالیا او د مرکزی چین څخه تر مالزیا پوری ګرمی سیمې دی او په همدی ترتیب سره د لوبیا ډولونه د مختلفو ځایونو څخه منځ ته راغلي دی.

## د لوبيا خوراکي او اقتصادي ګټې : Food and Economic value

### د لوبيا اقتصادي ګټې : Economic value

د نړۍ له ډېرو غورو دانه ايزو نباتاتو له ډلې څخه يو هم لوبيا دهد نړۍ د لوبياو د بيلا بيلو ډولونو د کښت لاندې ساحه ( ۲۴) ميلونه هکتاره ده په همدې اساس د حبوباتو په ډله کې لومړي مقام لرى د ټولو ډولونو نړېوال منځنې توليد يى (۵۰۰) کيلو ګرامه في هکتاره دى.

د ( ۴۰) فيصده د کښت لاندې ساحه يى په آسيا ، ( ۳۰) فيصده يى په امريکا ، نيږې ( ۹) ميلونه هکتاره د لوبيا ؤ د بيلا بيلو ډولونو د کښت لاندى ساحه په هندوستان ، ( ۴)ميلونه هکتاره په برازيل ، (۵.۱) ميلونه هکتاره په مکسيکو ، (۰.۳) فيصده هکتاره په بروندى کې.

په ۲۰۱۰ م کال کې ټول توليدات د نړۍ د وچو لوبيا ۲۳ ميلونه ميټرک ټنه و چې د ۳۰ ميلونه هکتاره نه زياته ساحه کې کرل شوي و .او په په ۲۰۱۰ م کال کې ټول توليدات د نړۍ د شنو لوبيا د۷.۱۷ ميلونه ميټرک ټنه و چې د ۱.۱۵ ميلونه هکتاره کې کرل شوي و.

لس غوره د وچو لوبيا تولبدونکي هيوادونه

(ميلونه ميټرک ټنه په ۲۰۱۰ م کال کې)

**Top ten dry bean producers (million metric tons), 2010**

| | |
|---|---|
| India | 4.87 |
| Brazil | 3.20 |
| Myanmar | 3.03 |
| China | 1.53 |
| United States | 1.44 |
| Mexico | 1.16 |
| Tanzania | 0.95 |
| Uganda | 0.46 |
| Kenya | 0.39 |
| Argentina | 0.34 |
| **World Total** | 23.23 |

لس غوره د شنو لوبيا تولبدونکي هيوادونه

(ميلونه ميټرک ټنه په ۲۰۱۰ م کال کې )

**Top ten green bean producers (million metric tons), 2010**

| | |
|---|---|
| China | 13.03 |
| Indonesia | 0.88 |
| Turkey | 0.59 |
| India | 0.58 |
| Thailand | 0.30 |
| Egypt | 0.27 |
| Morocco | 0.20 |
| Italy | 0.18 |
| Spain | 0.17 |
| Mexico | 0.10 |
| **World Total** | 17.65 |

File://G:\bean\Phaseolus vulgaris - Wikipedia, the free encyclopedia.htm


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبيا خوراکي ګټې :Food value

لوبياډېره اندازه پروټين لرى د څېړنو او مطالعاتو څخه په ډاګه کېږي ده چې د نبات پروټين په ډېرې چټکۍ سره په ميوو او په ځانګړی توګه تخمونو کې ذخيره کيږي د ۶۰-۲۵ ورځو په منځ کې هره ورځ ۱۷ميلی ګرام په شا او خوا کې پروټين په نبات کې زياتيږي.

لوبيا په شنه ډول او يا په وچ ډول سره تهيه کولای شو چې شنه ډوله لوبيا ممکن تازه او يا کنسرو په شکل په مصرف رسيږی.



( وچ لوبيـــــــا )



(شنه لوبيـــــــا )

دی ته مو پام بايد وی چې لوبيا په خام شکل سره په مصرف ونه رسيږی علت دا دی چې يوه سخته ماده لري چې فاسلين ( Phaselin) نوميږی چې کولای شي چې هاضمي سيستم خراب کړي. او د لوبيا يو داسي ډول شته دی چې په خپل ترکيب کې غوړ لريچې حيواناتو ته ورکول کيږي چې د حيواناتو لپاره فايده رسوي او د حيواناتو د محصول د زياتوالی سبب ګرځي هغه خلک چې د غوښې څخه استفاده نشي کولي نو د پروټينو د پوره کولو لپاره دي د لوبيا څخه استفاده وکړي.

په شنو لوبيا کې له پروټين څخه علاوه کلسيم ، مګنيزيم ، او اوسپنه موجوده ده او د او د بي ويټامينونه لکه( B B1 B2 B6 ) ډيره ښه او غوره سرچينه ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمومي ډول د شنو لوبيا د دانو جوړښت په لاندی ډول دی : د وچې داني ترکيبی موادو فيصدي

| | |
|---|---|
| اوبه | ۱۱٪ |
| پروتين | ۲۲٪ |
| شحم | ۱.۶٪ |
| کاربوهايدرېت ۵۷.۶٪ | |
| فايبر | ۴٪ |
| معدني مواد | ۳.۶٪ |

## د لوبيا طبي گټې:

۱: هغه ناروغان چې د زړه له ناروغيو څخه شکايت کوی لوبيا ورته گټه رسوي .

۲: زړه تقويه کوي.

۳:لوبيا په خپل ترکيب کی يوه کيمياوي ماده لری چی ازوئيت نوميږی د زړه نور مال فعاليت ډاډمن کوي.

۴: گردی تيږی لپاره ښه دی او د گردی تيږی ليری کوي.

۵: سينه او سږی نرم کوي.

۶:اضافی اوبه د بدن څخه خارجوي.

۷: جنسی قوت تحريکوي.

۸: د وينی کلسترول کموي.

۹: د سرطان ضد دي.

۱۰: د وينې فشار لږی کوي.

۱۱: لوبيا د خارجي استمال لپاره ملهم ورڅخه جوړوي او د زخمونو د پاسه يي ږدی ترڅو التهاب يي کم کړی.

۱۲.د لوبيا په خوړلو سره اولاد عقل مند پيدا کيږی.

۱۳.همدارنگه لوبيا نورې گټې هم لری چې بولې زياتوی شيدې زياتوی بلغم بيلوی حيض راولي بدن قوی کوی وينه ډيروی رنگ ته ښکلا وربښي او د ملا او پښتورگو درد ته فايده رسوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا نباتي ځانګړتیاوې : Botanical description of bean

لوبیا یوکلن معمولی بوټی دی او د پیژندل شویو حبوباتو له جملې شمیرل کیږی په همدې یو کال کې خپله جسمي او جنسي وده بشپړوي زمونږ په هېواد کېږې اوس کرنه زیات رواج لري.

لوبیا د ( Fabaceae) فامیلی پورې اړه لری چې علمي نوم یې Phaseolus vulgarisدی اود شنو لوبیا ډولونه سلګونو ته رسیږی د لوبیا ډولونه دلوړوالي له نظره په دوه ډوله دی : ټیټ قد لرونکی او لوړ قد لرونکی.

### الف:Bush type or (Dwarf type)

دغه نباتات ټیټ قد لری چې ارتفاع یې ۲۰-۶۰ سانتی مترو پورې رسیږی چې ژر رسیدونکی او محدوده نمو لري چې په ګرمو سیمو کې ښه وده کوی.

### ب: Pole type (Runner bean)

نامحدوده نمو لری او امکان لری چې ۲-۳ مترو په ارتفاع پورې رشد وکړی په دې کې د لوبیا هغه انواع شاملې دی چې لنډو او اوږدو ورځو ته ضرورت لری او په سړو سیمو کې ښه وده کوی د لوبیا ټولې نوعې په دوه عمده جنسونو پورې اړه لري.

۱: د (Phaseolus) جنس د امریکایی کلکو تخمونو ډولونه په کې شامل دي.

۲: د (Vigna) جنس د اسیایي ډولونه په کې شامل دي.

د امریکایي ډولونو پوښ پلن او څوکه یې لوړه وی چې (۴-۸) داني تخمونه لری چې تخمونه یې کلک وی .د اسیایی ډولونو پوښ یې نرې اوهم وړوکې وی چې ډېری داني لري.






(ټیټ قد لرونکي لوبیا ) ( لوړ قد لرونکي لوبیا )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا تکسانومي : Taxonomy of bean

Kingdom: plntae (phyta)

Division: Angiosperms (spermatophyte)(Seed plant)

Class: Eudicots (Cotyledon)

Subclass: Rosids (Dicotyledon)

Order: Fabales

Familiy: Fabaceae

Genus: Phaseolus

Species:P. Phaseolus (spp)

Scientific name: <u>Phaseolusspp</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library




همدارنګه لوبیا دوه مشیمه یی (Dicotyledon) نبات دی چې د مختلفو برخو څخه جوړ شوې دی چې په لاندې ډول دي.

## ۱: ریښه : Root

دا نبات د یوې اصلي ریښې لرونکی دی کوم چې په خاورو کې تر یو متر ژوروالي ودهاو نمو کوي څو جانبی ( اړخینی ) ریښې لري چې په خاوره کې تر ۱۵ سانتی متره پورې نفوذ کوي.






د فرعی ریښو (Lateral roots)د پاسه قهویي رنګه او نامنظم رنګ لرونکي ناجیلونهوجود لري چې د نایتروجن نصب کونکي دي چې په کرنیز تناوب کې د ځمکې (خاوره ) د حاصلخېزۍ لپاره ډېر ګټور دي . د لوبیا په ریښو کې یو ډول باکتریا پیدا کیږی چې د هوا ناتروجن ځمکې ته جذبویچې په پایله کې د لوبیا د چټکې ودې سبب ګرځي نوموړې باکتریا په سودا ګریزه توګه هم پیدا کیږي.





(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲: ساقه : Stem

د لوبیا د Bush type په نوم ورایټی د بوټو د تنو اوږدوالي د ۶۰ سانتي متره څخه تجاوز نه کوي کله چې خوشه ( محور) او انتهایي ګل ښکاره شي نو د ساقي اوږدوالي توقف کوي په عوض یی شاخونه او پاڼې زیاتیږي او د لوبیا د Pole typeپه نوم ورایټي کې تنې د ۲-۳ مترو پورې وده کوي.






## ۳: پا ڼې : Leave

د لوبیا دوه لومړنۍ پاڼې ساده او باقي پاڼې یې مرکبې او درې پاڼیزه وي پاڼې لکه د چرګې هګۍ په شکل او کوچنۍ وي . د پاڼو رګونه یې منشعب او په ډول ، ډول شکلونو سره په مختلفو بوټو کې لیدل کېدلاۍ شي.






(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴: گل : (Flower)

ددې نبات ګلونه په مختلفو رنګونو لکه سپين ، سور او بنفش ته مائل رنګونو سره ليدل کېږي او د محور د پاسه د ( ۲-۸) ګلونه منځ ته راځي چې په عيني حال کې له ښکته څخه پورته خوا ته غوړيږي . (۱۰) د تذکير آلې لري چې ۹ سره نښتي وي او به مرکز څخه يې د تأنيث آله بهرته راوځي.






(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵:مېوه یا پلي : ( Fruit )


په مختلفو لوبیاؤ کې د مېوې  د پوښ شکل توپیر لري د پوښ اوږدوالي معمولا  ۷-۲۰ سانتي مترو پورې وي چې د ۴-۶ او یا له دې څخه زیات شمیر دانو لرونکې وي.

د شنو لوبیا پوښ وتلې او ځوړند وي او په مختلفو ډولونو کې یو له بله سره فرق لري لکه پروت ، مستقیم ، پلن یا استوانه یی په شکلونو سره
وجود لري او مېوه د پوښ په داخل کې موجوده وي.









(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶ : دانه : Seed

د لوبيا دانه د تخم د رشد او نمو څخه لاسته راځي داني يي د ځيني خوراكي موادو لكه نشايسته ، شحم او پروتين لرونكي دي داني (تخمونه ) يی د رنګ له نقطي له نظره تور ، سره ، سپين ، قهوه يی او ژير وي د داني اوږدوالي يی( ۷-۱۶) ملی متره پوري رسيږي د لوبيا د ( ۱۰۰ ) دانو وزن يی(۲۰-۶۰) ګرامو پوري رسيږي.






(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا ډولونه :Beans spiecies

لکه څنګه چې مو مخکې وويل چې لوبيا د دانه ایزو نباتاتو په ډله کې لومړي مقام لري چې مختلف ډولونه يې زمونږ د ګران هيواد افغانستان او د نړۍ په مختلفوسيمو کې کرل کيږي چې په مناسب مقدار محصول تري په لاس راځي . چې مختلف ډولونه يې د نړۍ په مختلفو برخو کې کرل کیږي چې په لاندې ډول دي.

### ۱: شنه لوبيا :( Phaseolus vulgaris ) ( Green bean )

ددې نوعې لوبیامنشاء مرکزی اوجنوبی امریکاده په ۱۶قرن کې دهسپانويانواوپرتګالیانوپه زریعه اروپاته یوړل شو. دانبات دشنویازارعتی لوبیاپه نوم یادیږی چې داصلی اوفرعی ریښولرونکی دي.

په بوټه ايزو ډولونو کې يې د تنې اوږدوالې ۶۰ سانتي مترو څخه تجاوز نه کوي او په غزيدونکي ډولونو کې يې د تنې اوږدوالې د ۲-۳ مترو پورې وده کوي د پوښونو طول يې د ۷-۲۰ سانتي متره چې لرونکې د ۴-۶ دانو وي . او د تودخې مناسبه درجه يې د ۲۰-۲۹ ساتي ګراد پورې ده. په ګرم سيرو او نيمه ګرم سيرو سيمو کې د خاورې په مختلفوانواعو کې کرل کيږي او مناسب محصول توليدوي .



### ۲: سپين لوبيا ( Phaseolus lunastus ) (Lima bean)( White bean )

د سپين لوبيا منشاء جنوبي امريکا ( ګواتيمالا ، برازيل ، پيرو ) دي . دا نبات په ۱۹ قرن کې اروپا ، افريقا او آسيا ته وارد شو چې زياتره په امريکا کې کرل کيږي . معمولا وروسته پخيدونکي ډولونه يې پلن سپين او غټ تخمونه لري چې د ارقامو له مخې ويل کيږي چې له پيرو څخه منشا اخيستی ده . ژر پخيدونکي ډولونه يې د ګردو لږ پلنو او رنګه دانو لرونکي دي . نوموړو ارقام احتمالا کيدای شي له مکسيکو څخه منشا اخيستي وي.

سپين لوبيا علوفه يی دي او په يو کلن، دوه کلن او څوکلن ډولونو سره پيدا کيږي ګلان يي سپين، شين ، بنفش او سور ته مايل ليدل کيږي. د وده ايزې دورې اوږدوالی يې د نوعې د ورايتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پور اړه لري چې عموما د۸۰-۱۵۰ ورځو ته رسيږي چې مناسب pH يې د خنثى په شاوخوا کې دی او د يخنى په وړاندې يو حساس نبات دی او د ناوړه شرايطو په وړاندی يې مقاومت هم يو څه لږ دی





## ۳: خنجري لوبيا : (Convalvia ensifformis)

دا نبات د لرغوني مکسيکو څخه ۳۰۰۰ کاله مخکې له ميلاد څخه په لاس راغلي دی او د مرکزي او جنوبي امريکا اصلي نبات دی. او په پراخه پيمانه د ټولې نړۍ په گرم سيرو سيمو کې يې پراختيا موندلې ده. خنجري لوبيا يو بوټه ايز او ولاړ نبات دی چې ۱-۲ متره په ارتفاع سره طول لري. اصلي ريښه يې په آسانۍ سره خپريږي چې په خاوره کې تر ۱۵۰ سانتی متره نفوذ کوي چې تنې يې علوفه يې او خوري وري ( منشعبې ) دي. گلونه د فرعي تنو دپاسه تشکليږي. په هر پوښ کې۸-۱۸ داني وي چې سپين رنګ لري. او د ۱۰۰۰ دانو وزن يې په حدود کې د ۱۰۰۰-۲۰۰۰ گرامه دی. او ټولې ورائټي يې په گرم سېرو شرايطو کې ښه وده کوي.





(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴:علوفه ای لوبیا : (Dolichos Uniforms Syn D Lablab)

د دې لوبیا منشاء د افریقایي غرونو لړۍ ده او له هغه ځائ څخه بیا د آسیا جنوب شرق ته راوړل شوې دی د دې نبات زیاته جغرافیایي خپرېده په هند ، مصر، سوډان ، او ایتوپیا کې ده . یو کلن ولاړ او پورته خواته غزېدونکي علوفه ای نبات دی تنه یې د کمې ودې په صورت کې د ۳-۱.۵ مترو په شاوخوا او د ودې پر وخت ۵-۱۰ مترو پورې ارتفاع لري .او د تنې رنګ یې شین په نظر معلومیږی پاڼې یې غټې معلومیږی او درې پاڼیزی دی ګلونه د یو اندازه فاصلو پر اساس د تنو او پاڼو تر منځ قرار لری چې رنګ یې سپین ژیړ او بنفش دی او ګل ورکونه یې له ښکته څخه پورته خواته پیل کیږی میوه یې پوښ او طول یې له ۱۱سانتی مترو څخه ډیر دی هر پوښ که ۲-۵ پوری کوچنۍ دانې لرې چې رنګونه یې سپین قهویي او تور دی او د ۱۰۰۰دانو وزن یې هم له ۱۰۰۰ګرامو څخه ډیر دی دا نوعه لوبیا ګرمي خوښونکی دي چې د تیغ وهلو لپاره یې مناسبه او مطلوبه د تودوخې درجه ۲۰-۳۰ سانتی ګراد دی.

## ۵: مخملي یا بنګالي لوبیا : (Mucuna adans)

دا نوعه لوبیا له آسیا جنوب څخه منشاء اخیستې ده چې د لومړي ځل له پاره په پخواني هند کې اهلي شول . او بیا وروسته برما ، چین او جاپان ته یوړل شول د جغرافیه له نظره خپریدل یې محدود دی او یواځې په ګرمو سمو لکه : په هند او جاپان کې کرل کیږي . دا نوعه لوبیا د یو متر ارتفا لرونکې او په غټو فارومونو کې د ۴-۱۰ متره پورې ارتفاع یې زیاتوالي مومي . پاڼې یې درې پاڼیزه او د چرګې هګۍ د شکل په څېر دی . میوه یې تېره څوکه لری د کومې په وسیله چې د حیوانانو له خطر څخه په امان کې وي .چې دانه یې په لاندې ډول ده.

(۲۵-۲۰)٪ پروټین

( ۲۹-۵۲) ٪ کاربوهایدریټ

( ۲-۵) ٪ شحم

(۳-۴) ٪ معدني مواد

## ۶: مټ لوبیا : (Vigna aconitfolius)

دا نوعه لوبیا د هند د نیمه وچو سیمو څخه منشاء اخیستې ده او په آسیا کې د دانو په منظور په ځانګړې توګه او یا د باخرې او ږدنو سره په مخلوط ډول کرل کیږي . د لنډو ورځو نبات دی او تر یوه حده پورې منشعبې تر ۳۰ سانتي مترو پورې وده کوونکي تنې لري . ګلان یې خاکستري یا تور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷:ادزوکي لوبیا : Vigna angularis

دانوعه لوبیالاتراوسه دجاپان اوچین څخه بهرندي کرل شوی یوکلن ولاړنبات دی چی روښانه زیړاودغنچوپه شکل ګلان لری پوښونه یی ۱۰سانتی متره طول او ۱۰دانوپه شاوخواپه سورقهوه یی یاتوررنګه دانی په کی قرارلری.






Adzuki – Bean

## ۸ : تپاري لوبیا : Phaseolus acutifolios (Tepary bean)

دا نوعه لوبیا د مکسیکو په شمال کې اهلي شوې دي او په پراخه پیمانه سره د امریکا په جنوب غرب سیمو کې کرل کېږي . د دی لوبیا خاصه ځانګړتیا دا ده چې ژرپخیږي او د وچوبي په وړاندې مقاوم دي نو فلهذا دا لوبیا د ګرم سیرو او چو سیمو د ډېروبا ارزښته حبوباتو څخه شمیرل کېږي پاڼې یې پلنې ، اوږدې او د ۵-۹ ساتي مترو په طول پوښ لري ، چې په منځ کې یې سپینې ، قهوه ای یا تورې داني وجود لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹: سره لوبیا : ( Red bean):Phaseolus calcaratus )

دا نوعه لوبیا د همالیا ، مرکزی چین او برما د ګرم سیرو سیمو بومي نبات دی په فلپین ، برما ، هند ، ایران ، افغانستان او چین کې یې له وچو دانو څخه د خوراک په توګه ګټه اخستل کیږي . یو کلن ولاړ نیمه ولاړ یا ژغلیدونکي تني لري چې د تنو اوږدوالي یې د ۳۰-۱۰۰ سانتي مترو پورې رسیږي . پاڼې یې دري پاڼیزه او لوړ پوښونه لري چې د ۸-۱۲ دانو لرونکي دي د ۱۰۰ دانو وزن یې ۸-۱۲ ګرامو پورې دی.






## ۱۰: چشم بلبلي لوبیا : Vigna sinensis

د دې نوعې لوبیا منشاء افریقا ده او له دی ځای څخه هند ، چین ، شمالي او مرکزي امریکا ځینی برخو ته انتقال شول . تنکی او تازه داني او نا رسیدلي پلي یا پوښونه تر ګټي لاندې نیول کیږي او کله کله په امریکا کې له هغې څخه کنسروا جوړوي او د نړی په سطحه د ۱.۵-۲ میلونه ټنه وچې داني تولیدوي د چشم بلبلي لوبیا څخه د شنې سرې ، علوفې او د شنو پوښونو په توګه هم ګټه اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا توافق :Bean adaptation

### ۱ : اقلیمي شرایط ( د ودې اغیزمن عوامل ) Climate factors

لوبیا د ګرم موسم نبات دی چې مناسبه حرارت د لوبیا د رشد له پاره د ( ۲۵-۲۹) سانتي ګراده حرارت حدودو په منځ کې ده چې د ( ۴۰ ) سانتي ګراد څخه د حرارت درجې څخه پورته دانه نه تشکیلوي او د (۱۵) سانتي ګرادد حرارت درجو څخه په ټیټه حرارت درجه کې رشد (وده) نه شي کولای .لوبیا د لنډو ورځو نباتات دي او یو څه انداره سیورې زغملې شي چې د مکملې ودې له پاره (۱۳۰-۱۲۰) ورځو ته ضرورت لري . شنه لوبیا د لږ رطوبت سره ښه مقاومت کوي مګر په وچو شرایطو کې یې تولید کمیږي . وچه او ګرمه هوا خصوصا د ګل کولو په وخت کې د دې سبب کیږي چې صحیح پلي جوړ نه کړي یعنې په دی وخت کې د وچې هوا سره حساس وي.

بهترین ځائ د کرلو له پاره هغه ځائ دی چې د فصل په اخر کې یعنې ( کله چې فصل سرته ورسیږي ) باران ونه شي .د اکثرو لوبیا ډولونو د دانې پوښ د اوبو په مقابل کې غېر قابل نفوذ دي د باد د جریان په وخت کې ذخیره کوي یا ګرمو ذخیره خونو کې یې ساتي تر څو چې پوش نور هم سخت شي .زیات بارانونه د ګل د رژیدو باعث ګرځي او په مرضونو اخته کیږي . د خاورې مناسب PH دغه نبات له پاره د ۶-۷ پورې دی.

سره له چې شنه لوبیا په هر ډول اقلیمي شرائطو کې وده کوي خو په توده هوا کې یې ښه او حاصل یې په زړه پورې وي . په دوبي په تېره بیا په ماسپښین کې باید د لوبیا له پاره سیورې له نظره ونه غورځول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲:خاوره :Soil

لوبيا پهداسي خاورو کې ښه شنه کېږي کوم چې د ډيرې حاصلخېزی لرونکې وي چې دا ډول خاورې د اوبو او د هوا د نفوذ د مننې ډېره وړتيا لري.

يو شمېر لوبيا لکه : چشم بلبلي لوبيا هم لکه د نورو حبوباتو په شان د رائزوبيم باکتريا سره د ګډ ژوند تېرلو د نايتروجن په نصب باندې قادره دي نو په همدې اساس مولبيديم ، کوبالت ، مس او فاسفورس ته اړتيا لري له نايتروجن څخه د نبات د ودې په مرحله کې ګټه اخيستنه د هغه د ګل د مرحلې پر تله محصول باندې ډېره زياته اغيزه کوي.

همدارنګه شنه لوبيا په مختلفو خاورو کې شنه کېږي هغه خاورې چې ښه تهويه او زيات عضوي مواد ولري د دې نبات له پاره غوره ګڼل ګېږي . او هغه خاورې چې کلکې وي نبات کښت کمزورې کوي.

هغه لوم خاوره چې کاملا حاصلخيزه ، ښه زهکشي شوي او زيات هيومس ولري د لوبيا د کرلو له پاره ترجيع ورکول کېږي . هغه خاورې چې تېزابي وي بايد ګچ ورکړل شي او د زيات ګچ ورکولو څخه بايد ډډه وشي . او په هغو ځايونو کې چې د خاورې ناروغۍ وجود ولري شنه لوبيا بايد هلته د يو يا دوه ځلې کرلو څخه وروسته بايد بيا پنځه ( ۵) کاله وروسته وکرل شي ( يعني ۵ کاله کرنيز تناوب ورکړل شي ) شنه لوبيا عملا په مختلفو خاورو کې کرل کېږي . په کاليفورنيا کې په پيټ (Pet) خاورو کې کرل کيږي او په زړه پورې نتيجه يې ورکړې ده په ګنګل کېدونکي سيمو کې ژر رسيدونکي ورائټوګانو ته په نرمو خاورو او لوم نرمو خاورو ته ترجيح ورکول کېږي او متوسطه رسيدونکو ورائتي ګانو ته درنې خاورې ګټورې دي . شنه لوبيا په اکثره سيمو کې د نايتروجن په زياتوالي سره ښه عکسل ا لعمل ښئ که څه هم نوموړې ځمکه په تکراري ډول د کښت لاندې هم ونيول شي.

## ۳: د نايتروجن نصب :

شنه لوبيا د نايتروجن په نصبولو کې ضعيف دي مطالعاتو راښودلې ده د نبات په بندونو کې د کاربوهايدريت نه موجوديت د نايتروجن نصب محدودوي .د شنو لوبيا په ورائټو کې د نايتروجن په نصبولو کې تر هغه وخته اختلافات موجود وي چې تر څو پورې ګل رشد (نمو) نه وي کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا کرنیزې عملئې : Cultural practices of bean

### ۱: د ځمکې چمتو کول ( بستر جوړول ) : Seed bad preparation

د لوبیا د کښت له پاره ځمکه په داسې طریقې سره اماده شي چې د تېغ وهنې او زرغونیدلو له پاره غوره محیطي شرائط ولري. او اجازه ورکړي تر څو ریښې ښه وده وکړي او خوراکي عناصر په ډېره اسانۍ سره جذب کړي.

او همدارنګه کله چې سړه هوا او ګنګلونه په بشپړه توګه مات شي او خاوره توده شي د شنه لوبیا د کرلو له پاره مناسب وخت ګڼل کېږي. ځمکه باید دې په مني تیاره او ( ۳۹) سانتي متره په اندازه ژوره واړول شي د حیواناتو زړه سره (کود) دې د خاورې سره ګډه شي خاوره له کر څخه مخکې باید په بشپړه توګه پسته شي . که چېرې خاوره تېزابي وي نو په خاوره کې دې په مناسبه توګه چونه ګډه شي . قطارونه دې (۴۰-۵۰ ) سانتي مترو په فاصله جوړ شي . د بوټو تر منځ واټن دې تر (۱۰) سانتي مترو پورې په نظر کې ونیول شي او همدارنګه په یوه ساحه کې دې له دوو ځلو څخه زیات لوبیا ونه کرل شي .ځمکه باید ښه قلبه شي دا چې لوبیا د ډېرو سطحي ریښو لرونکي دي د ډېر حاصل په نتیجه کې د باد او باران له امله زیانمن کېږي.

د تجارتي تولید له پاره د شنو لوبیا تخمونه باید په لوړو بسترو کې وکرل شي . عنعنوي کرنه کې تخمونه ( ۲-۲.۵ ) سانتي متره په خاوره کې ژور کرل کېږي چې په یو سوري کې باید درې ( ۳) دانې تخمونه واچول شي چې د شنه کېدلو څخه وروسته کله چې بوټي ځوان شول په سوري کې باید ۲ بوټي پرېښودل شي . په کرونده کې چې د بوټو سره یې لرګي لګول کېږي د بوټو تر منځ یې فاصله (۱۵) سانتي متره فاصله پرېښودل شي . او د قطارونو تر منځ ( ۹۶) سانتي متره واټن پرېښودل کېږي .په تجارتي کرنه کې د بستر له مرکزڅخه مرکز ته یو ( ۱) متر فاصله نیول کېږي او په هر بستر کې دوه قطاره بوټي کرل کېږي چې د قطارونو تر منځ واټن (۴۰) سانتي متره او د بوټو تر منځ (۳۰) سانتي متره واټن پرېښودل کېږي چې په دې ترتیب سره په یوه جریب کې ۱۲۰۰ بوټي کرل کېږي.

د کرلو څخه مخکې ځمکه باید د ډسک په واسطه کاملا نرمه شي او د هغې څخه وروسته کومې لوټې چې ډسک پواسطه منځ ته راغلي وي د کلتیواټور پواسطه یې ښه میده شي تر څو خاوره د کرلو لپاره مکمله پاکه او نرمه شي دې ته مو باید پام وي چې تخمونه د کرلو څخه مخکې باید د کیمیاوي موادو سره معامله شي . لوبیا د جوانه وهلو له پاره ۱۵ سانتي ګراده حرارت درجې ته ضرورت لري. لوبیا په پسرلي کې د کنګل ختمېدلو څخه وروسته کله چې د خاورې حرارت درجه ۱۲-۱۶ سانتي ګراده وي کرل کېږي.د هېواد په جنوبي سیمو کې چې هوا سړه وي په پسرلي کې کرل کېږي چې کرل یې د قطارونو په شکل سرته رسیږي . تخم باید ۲-۳ سانتي متره پورې په خاوره کې ژور ښخ شي. د لوړ قد لرونکي بوټو له پاره باید تکیه جوړه شي او تکیه جوړونه باید د ګل نیونې څخه مخکې باید صورت ونیسي مګر د ټیټ قد لرونکي بوټي اتکاء ته ضرورت نه لري .ټیټ قد لرونکي بوټي نظر لوړ قد لرونکو بوټو ته ژر حاصل ورکوي. او دغه وخت د ۴۰-۵۰ ورځو د کرلو څخه وروسته په حاصل راځي یعنې خپل نمو ای ودې له پاره د ۴۰-۵۰ ورځو ته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوبيا ټيټ قد لرونکي نبات د حاصل ورکولو ډېر کم وخت دی د دې له پاره چې دايمي توليد ولرو د لوبيا کرل د هر دوو يا دريو هفتو وروسته کرل صورت ونيسي . شنه لوبيا د کنګل نيونې څخه اته (٨ ) هفتې مخکې هم کرلی شو . همدارنګه لوړ قد لرونکي لوبيا خپل نمويې ودې له پاره ۶۰-۷۰ ورځو ته ضرورت لري . دلوړ قد لرونکي لوبيا ؤ د حاصل ورکولو توان ډېر دی کله مو چې لوړ قد لرونکي لوبيا وکرل تر هوا سړېدو پورې په دوامداره توګه حاصل ورکوي.

په عومي ډول د لوبيا کرل په دوه ډوله دي چې په لاندې ډول دي.

۱: په خالص ډول ۲: په مختلط ډول

په خالص ډول د لوبيا کرل په درې ډوله صورت نيسي

## ۱: د لاس په واسطه د لوبيا د تخم کرل :

د لاس پواسطه د تخمونو شيندل د نامناسبو طريقو څخه ده چې په دې کې د تخم له پاره هېڅ ډول نظم او ترتيب د ځمکې (خاورې) پر مخ شيندلو له پاره نه وي دغه ډول کرلو څخه علاوه ټول کرنيز عمليات لکه : خېشاوه ، د اوبو تنظيم ، رنګړي کول ، خاورې نرمول او خاوره ورکول بوټو ته او نور عمليات غېر ممکن کوي . د دې تر څنګ يو اندازه تخم بې ځايه په مصرف رسيږي.

## ۲: په کپه يي ډول د تخم کرل :

په دغه سېستم کې وياله وهل کيږي او په هغه کې يو يا څو دانې تخمونه اچول کيږي دغه سېستم د لوبيا له پاره ډېر ګټور نه دی . او ګټه يې دا ده چې په يو معينه اندازه تخم کرل کيږي او د تخم د ضايعاتو مخه نيول کيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳: د قطارونو په شکل د تخم کرل :

په دغه طريقه کې تخمونه په منظم ډول په قطارونو باندې په موازي ډول په معينه فاصله قرار لري کرل کيږي . د هر قطار فاصله ۹۰ سانتي متره او د بوټو تر منځ ۱۵-۴۰ پورې فاصله په نظر نيول کيږي او د ۲.۵-۷.۵ په ژوروالي سره کرل کيږي او ټول کرنيز عمليات وربانديې په صحيح ډول صورت نيسي . او کولائ شو چې د قطارونو تر منځ وړې ويالې جوړې شي چې د دې ويالو په مرسته بوټي په منظم ډول اوبه کړو او هم په دې طريقه کې اوبه کمې په مصرف رسيږي او د لږو اوبو پواسطه کولائ شو چې ډېره ساحه اوبه کړو او د خاورې د کلکېدو څخه مخنيوی وکړو چې په نتيجه کې نبات په آسانی سره شين شي او هم په دې طريقه کې کم تخم استماليږي . او د لوبيا د کرلو له پاره مناسبه طريقه ده.





د قطارونو په شکل د تخم کرل

## د لوبيا مختلط (ګډ) کرل :

معمولا شنه لوبيا د جوارو ، کچالو، قهوه او باقلي سره کرل کيږي په دغو نباتاتو کې رقابت د کرلو د سېستم سره فرق کوي . اوهم د اړوند فصل اوږدوالي پوری اړه لري .

## د مختلط کرلو ډولونه :

۱:په منظم ډول مختلط کښت ۲ : د وخت د تغير مختلط کښت ۳: مخلوط مختلط کښت

## ۱:په منظم ډول مختلط کښت : Row inter cropping

په دغه سېستم کې لوبيا او جوار په معلومو قطارونو کې په معلومو فاصلو په نسبي وختونو کې کرل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲: د وخت د تغیر مختلط کښت : Rely cropping

دا هغه سېستمونه دي چې نباتات په کې ګډ ډول کرل کېږي (یعني دوه ډوله نباتات ) چې معمولا دوهم کرنیز نبات یې لوبیا دي . لومړې نبات چې ګل وکړي نو بیا دوهم کرنیز نباتیعني لوبیا کرل کېږي.

## ۳: مخلوط مختلط کښت : Mixed cropping

په دغه سیستم کی نباتات په مخلوط ډول سره کرل کیږی اوپه معلوموقطارانوکی نه کرل کیږی دکرلوپه دغه طریقه کی معمولا ددوڅخه زیات نباتات کرل کیږی مثلا جوار،لوبیا اوباقلی کرل کیږی.

## ۲: د کښت وخت : Seeding time

د لوبیا ټول ډولونه باید په خپل وخت کې وکرل شي. ټیټ قد لرونکي لوبیا په هغو ځایونو کې چې هوا یې ګرمه وي د دلوې او حوت میاشتو کې کرل کېږي . او په یخو ځایونو کې د لوړ قد لرونکي لوبیا تخم د حوت د میاشتې نه تر جوزا پورې کرل کېږي.

## ۳: د تخم اندازه : Seeding rate

هغه تخمونه چې د کرلو له پاره کارول کېږي د هغوئ د رطوبت اندازه باید ۷-۱۰ فیصده وي ځکه هغه تخمونه چې د شنه کېدو فیصدي یې د ۷-۱۰ څخه ټیټه وي هغه نه شنه کېږي . که چېرې د کرلو څخه څو ورځې مخکې د لوبیا تخم په مرطوب ځاې کې کېښودل شي نو دا د شنه کېدو سره مرسته کولائ شي چې دا غوره طریقه ده . هغه تخمونه چې د کرلو له پاره کارول کېږي باید په بوجیو یې فشار رانه شي او په ځاې کې زېرمه شوي وي . که چېرې د تخمونو پوښ مات شي یا درز یې کړې وي د هغه تخمونو څخه کاربوهایدریت راوځي چې د کرلو څخه وروسته خوسا کېږي . هغه ډولونه یې چې تاکونه تولیدوي (یعني تکیئ ته چې ضرورت لري ) د یو جریب له پاره ۶-۸ کیلو ګرامه تخم سپارښتنه کېږي. او هغه ډولونه چې بوټي تولیدوي په یو جریب کې ۱۶-۱۸ کیلو ګرامه تخمسپارښتنه کېږي.[۴]

په وچو سیمو کې تخمونه د مرطوبو پرتله کم وکرل شي.

او همدارنګه د ۱۰۰ متره مربع ساحې له پاره ۶۰۰ ګرامه تخم په نظر کې نیول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴: اوبه کول : Irrigation

کله چې لوبیا په ګلانو پېل کوي باید منظم اوبه شي او همدارنګه د نبات په شاوخوا کې د اوبو د ډنډېدو څخه مخنیونې وشي.

د کافي اوبو مقدار او د هغې توزیع د لوبیا د کښت له پاره ضروري ګڼل کېږي . د شنو لوبیا د اوبو مقدار او مدت د خاورې په رطوبت ، اقلیمي شرائطو او د نمویي فصل په اوږدوالي پورې اړه لري .

معمولا شنه لوبیا د ۳-۵ ځلې پورې خړوبوي او هر ځلې په هر هکتاره ځمکه کې د ۸۰-۱۰۰ ملي متره پورې اوبه ورکوي(یعني خړوبوي یې). دې ته مو باید پام وي چې د شنو لوبیا ریښې ډېرې ژورې نه ځي یعنې سطحي دي چې ډېرې اوبه د حاصل د کموالي باعث ګرځي یعنې د نمویی فصل په جریان کې ډېر ځلې اوبه نه‌شي.

او باید د ضرورت په وخت کې اوبه شي . او همدارنګه د ګل کولو په وخت کې زیاتو اوبو ته ضرورت لري که چېرې په دغه مرحله کې اوبه ډېرې یا کمې شي نو د ګلانو د رژېدلو باعث ګرځي.

یا په بل عبارت شنه لوبیا سطحي ریښې لري نو په همدې اساس زیاتو اوبو ته اړتیا لري خصوصا د ګل ، پلي او د مېوې نیولو په وخت کې د لوبیا فصل ته زیاتې اوبه ورکړل شي.

شنه لوبیا د نورو بوټو پرتله اوبو ته لږه اړتیا لري ، که چېرې د اوربښت په فصل کې کرل کېږي، له خړوبولو پرته روزل کېږي ، د افغانستان په شرایطو که خړوب نه شي حاصل نه ورکوي.

## ۵: سره (کود) : Fertilizer

د حاصل د زیاتوالي له پاره دې عضوي او کېمیاوي سرې تطبیق شي عضوي سره (حېواني یا نباتي )

دڅه کرلو څخه مخکې په ۱۰۰ متر مربع ساحه کې ۱۰۰۰ کیلو ګرامه واچول شي .

کېمیاوي سره (NPK) په ۱:۳:۱ تناسب استعمال شي .

نایتروجن : ۶۰۰ ګرامه

فاسفورس : ۱۸۰۰ ګرامه

پوټاشیم : ۶۰۰ ګرامه

په هره ۱۰۰ متره مربع ځمکه کې ښه مناسبه ده چې د سرې پورتنی اندازه استعمال شي.

لوبیا د نورو دانه ایزو نباتاتو په شان د فاسفورس او پوټاشیم لرونکو سرو سره ښه توافق لري.
معمولا د خزان په فصل کې یا د ژمي په اوایلو کې ۳۰-۴۰ ټنو پورې حېواني سره په یو هکتاره ځمکه کې استعمال شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶: د هرزه بوټو کنترول : Weed control

د لاس په واسطه للون کول تر ټولو ښه طریقه ګڼل کیږي . که چیرې وغواړو چې هر زه بوټي په پټي کې پیدا نه شي نو باید د فصل د کرنې څخه مخکې د Treflan ۰.۲-۰.۳ لیتره په یو جریب کې استعمال شي نو د هرزه بوټو به څخه مخنیوې وشي.

که چیرې د لوبیا په فصل کې د قطارونو تر منځ کافي فاصله وجود ولري نو په مېخانیکي توګه کولای شو چې اسانۍ سره هرزه بوټي کنترول کړو . د ټول نمويي فصل په جریان د هرزه بوټو کنترول د ۲-۳ ځلې پورې کفایت کوي . د هرزه بوټو د کنترول له پاره باید د کرلو څخه مخکې Treflan او (EPTC) استعمال شي . د شنو لوبیا د شنه کېدو څخه مخکې کولائ شو چې ( دي نېترو ) ۳-۶ ګیلو ګرام په هکتار ځمکه کېاستعمال شي. د هرزه بوټو ( ناموخي بوټي ) کنترول باید په منظم ډول تر سره شي د مېخانیکي کنترول چلند کې باید کوشش وشي چې د نبات سطحي ریښو ته زیان ونه رسیږي.

## ۷:د حاصل راټولول او اداره :

د حاصل اخستل په مناسب وخت کې د حاصلاتو د زیاتوالي سبب ګرځي او حبوبات هغه وخت راټولیږي چې فزیولوژیکي پخېدو ته ورسیږي یعنې کله چې یې وده ودریږي.

او همدارنګه د ګل د نیولو څخه ۱۷-۲۵ ورځې وروسته حاصلات ټولیږي . ټول پلي باید په هغه وخت ټول شي چې داني یې روښانه شین رنګ ولري غوښین وي او داني یې شني وي . که چیرې تر ډېر وخت پورې پرېښودل شي نو د دانو کیفیت یې خرابیږي او خپل روښانه رنګ د لاسه ورکوي . پلي مخکې له دې چې د ورځو په اوږدو کې هوا ګرمه شي ټول شي او د هغې وروسته په یوه ټوکرۍ کې واچول شي او لاندې یې یو لوند ټوکر واچول شي تر څو رطوبت دلاسه ور نه کړي او په سیوري کې کېښودل شي . کله چې په شنه حالت ټول شي باید په ۲۴ ساعتونو کې په تازه ډول مصرف ورسیږي . او همدارنګه کولائ شو چې په صفر سانتي ګراد کې چې رطوبت د ( ۹۰ - ۸۰) ٪ پورې وي د زیات وخت له پاره ذخیره کړو چې شنه لوبیا د کوټې په حرارت کې د ۴-۵ ورځو پورې ساتلای شو.

که چیرې په شنو لوبیا باندې اوبه وپاشل شي نو د هغې د زېرمې وخت اوږدیدلائ شي . هغه شنه لوبیا چې زخمي وي باید د نورو شنو لوبیا سره یو ځای زېرمه نه شي . شنه لوبیا د رومیانو ، کېلې او منو سره زېرمه نه شي ځکه چې نوموړې مېوې ایتایلین ګاز تولیدوي.او همدارنګه د پیازو او مرچکو سره یو ځای انتقال نه شي ځکه له دوی څخه بوئ اخلي . د لوبیا په شنه ډول راټولول باید د سهار یا د شپې له خوا صورت ونیسي ځکه چې په دغو وختو کې یې نقصانات کم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوبيا راټولول يو له مهمو مرحلو څخه ګڼل کېږي معولا د شنو لوبيا دانې د ټولولو په وخت کې ۴۰٪ په شاوخوا کې رطوبت لري او د پوښ رطوبت يې ۸۰٪ وي حاصلات يې راټولوو.

که چېرې دغه پورتنۍ ذکر شوې اندازه د رطوبت يې کمه شي د حاصلاتو د ټولولو په وخت کې د دانو د رژېدلو باعث ګرځي چې دې ته مو پام وي چې شنه لوبيا د هغه ماشين پواسطه راټولولائ شو چې پرېکوونکي غاښونه لري . د دغه ماشين د پرېکوونکو غاښونو د پاسه ساتونکي څرخونه وجود لري وصل شوي وي چې د بوټي د پرېکولو څخه وروسته د يو قطار په شکل بل طرف ته انتقالوي . د دې ماشين په واسطه په يو وخت کې د ۲-۴ پورې قطارونه راټولولائ شو.





او همدارنګه سپين لوبيا چې عموما په تازه او تنکي ډول په مصرف رسيږي دانې مخکې د رژېدو او کاملې ودې څخه تخمونه او دانې په لاس په وسطه جلا کېږي . د پراخو ساحو په صورت کې د ربېلو د ماشين آلاتو څخه کار اخيستل کېږي.



د لوبيا د فزيولوژي پخېدلو تر پړاو پورې په کرونده کې پاتې کيږي او له وچېدلو وروسته يې راټولوي او زېرمه کوي يې ، تخم يې له ۲ نه تر ۴ کلونو پورې ساتل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا مهمې ناروغۍ او افتونه :

### د لوبیا مهمې ناروغۍ :

شنه لوبیا خصوصا د اسیا په غرب کې د یو ګڼ شمېر ناروغیو تر اغېزې لاندې راځي او نوموړي نبات ته ډېر زیات زیانونه اړوي ، د سوځند یا (بلایت) ناروغي ، زنګ او بلاخره د تنو نېماتودي د ډېرو مهو ناروغیو څخه شمېرل کېږي.

د دې ناروغیو سره د مقابلې عملي لاره د مقاومو ورائټیو څخه ګټه اخېستنه او همدارنګه د ځینو کیمیاوي دواګانو لکه : نېلکوزولین (رونیلان) چې یو غوره او اغیزمن فنجي وژونکي دي کار اخستل کېږي.


د سوځند (سوختګي) د مخنیوي له پاره همدارنګه کلورتانیل (براوو) هم مخنیوي له پاره ډېر ګټور برېښي.

د تنو د نېماتودونو د مخنیوي له پاره سېستماتیک نېماتود وژونکو لکه : د الدیکارپ څخه ګټې اخیستې سپارښتنه کېږي.

د لوبیا د وایروسي ناروغیو له ډلې نه یو هم د موزائیک ناروغۍ ده د عامل انتقالوونکي یې حشرات دي د پاڼو د ډنډرکو لنډ والي ، د پاڼو په څنډو کې د کم رنګه ژېړو برخو ښکاره کېدل او د پاڼو په منځ کې د تیاره شین رنګ رامنځ ته کېدل دي چې د دې ناروغۍ د ډېرو غوره نښو نښانو څخه شمېرل کېږي.

په حاضرو وختونو او شرائطو کې د دې ناروغۍ پر وړاندې د مخنیوي کومه لاره لا تر اوسه نه شته نو بناء پر دې په ناروغۍ ککړ نباتات باید له منځه یوړل شي . همداراز د ناروغیو پر وړاندې د مقاومو ورائټیو له کرلو څخه ګټه واخیستل شي.

**Bean Common Mosaic Virus**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوبیا مهم افتونه :

یو ګڼ شمېر حشرې په لوبیا باندې حمله کوي چې له دې ډلې څخه ډېره مضره حشره مکسیکویي قانغوزک ده چې دا حشره د اول ځل له پاره په ۱۸۶۴ م کال کې په امریکا کې تشخیص شوې ده . دا حشره د شنو لوبیا او سپینو لوبیا څخه تغذیه کوی .د کیمیاوي موادو پواسطه کولائ شو چې په دواړو مرحلو د (لاروا یا بالغه حشره) له منځه یوسو.

یوه بله حشره چې په لوبیا حمله کوي د لوبیا سپږۍ ( Obtectus) ده چې په اکثره وختونو کې د انبارونو او بوجیو د پاسه په کوم کې چې شنه او سپین لوبیا ځاې پر ځاې شوي وي لیدل کېږي.

دا حشره په کرونده کې خپلې هګۍ د لوبیا د پوښونو دپاسه اچوي چې وروسته بیا لاروا وي له هګیو څخه خارج د نبات یا د لوبیا دانې ته انتقال مومي او هلته په خپلې ودې پېل کوي چې وروسته څه وخت څخه بالغه سپږۍ د لوبیا د دانې پوټکې سوري کوي او د لوبیا په یوې دانې کې ممکن څو سپږۍ وده کړي .د لوبیا پاڼې خوړونکې ګونګټې او د لوبیا (ترپس ) د نورو حشراتو ډلې څخه دي کوم چې په شنو او سپینو لوبیا باندې حمله کوي.

د کنترول له پاره یې کولائ شو چې د مقاومو ورائټیو له استعمال څخه ګټه واخلو.

## د چشم بلبلي لوبیا د ګل او مېوې خوړونکې چینجي :

دا افت د لوبیا له پوښ او ګل څخه تغذیه کوي او په دې توګه د محصول د کمېدلو سبب ګرځي . د دې افت سره د مبارزې غوره دوا د فورادان ۷۵٪ یعنې (مولسیون) دوا ده کوم چې نسبت ۲ پر ۱۰۰۰ کې ده . دا حشرات کولای شي چې لوبیا ته لږ یا ډېر زیان ورسوي.



**Cutworms**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایله :

لوبیا د نړۍ د مهمو حبوباتو له جملې څخه ده چې د Fabaceae په کورنۍ پورې اړه لري او انسانان یې د تغذیې لپاره په مصرف رسوي چې د پروتینو له کبله ډېر غني دي او د علوفې څخه یې حیوانات استفاده کوی .همدارنګه لوبیا پروتینو څخه علاوه کاربوهایدریت ، فایبر ، ویټامینونه او یو څه مقدار شحمیات لری چې (د انسان د مصرف لپاره ډېر قوي دی) اوس لوبیا په ټوله نړۍ کې کرل کېږی او ښه په زړه پورې حاصل ترې لاسته راځي.

لاسته راغلو څېړنو او مشاهداتو پر اساس ښودل کېږی چې لوبیا لومړې له پیرو څخه او له هغه وروسته د متحده ایالاتو له جنوب غرب څخه لاسته راغلی دي.

د نړۍ له ډېرو غورو دانه ایزو نباتاتو له ډلې څخه یو هم لوبیا دی د نړۍ د لوبیاو د بیلا بیلو ډولونو د کښت لاندې ساحه (۲۴) میلونه هکتاره ده په همدې اساس د حبوباتو په ډله کې لومړې مقام لری د ټولو ډولونو نړېوال منځنې تولید یې (۵۰۰) کیلو ګرامه في هکتاره دی.

لوبیاډېره اندازه پروتین لری د څېړنو او مطالعاتو څخه په ډاګه کېږي ده چې د نبات پروتین په ډېرې چټکۍ سره په میوو او په ځانګړی توګه تخمونو کې ذخیره کیږي د ۶۰-۲۵ ورځو په منځ کې هره ورځ ۱۷میلی ګرام په شا او خوا کې پروتین په نبات کې زیاتیږي.

لوبیا یوکلن بوټی دی او د پیژندل شویو حبوباتو له جملې شمیرل کیږې په همدې یو کال کې خپله بدنی او تخمی وده بشپړوي زمونږ په هېواد کې یې کرلاوس زیات رواج لری. همدارنګه لوبیا دوه مشیمه یی ( Dicotyledon) نبات دی.

لکه څنګه چې مو مخکې وویل چې لوبیا د دانه ایزو نباتاتو په ډله کې لومړې مقام لري چې مختلف ډولونه یې زمونږ د ګران هیواد افغانستان او د نړۍ په مختلفو نقطو کې کرل کیږي چې په مناسبو سیمو کې مناسب مقدار محصول تولیدوي.

لوبیا د ګرم موسم نبات دی چې مناسبه حرارت د لوبیا د رشد له پاره د ( ۲۵-۲۹) سانتي ګراده حدودو په منځ کې ده چې د ( ۴۰ ) سانتي ګراد څخه د حرارت درجې څخه پورته دانه نه تشکیلوي او د (۱۵) سانتي ګراد د حرارت درجو څخه په ټیټه حرارت درجه کې رشد (وده) نه شي کولائ .لوبیا په داسې خاورو کې شنه کېږي کوم چې د ډیرې حاصلخېزۍ لرونکې وي چې دا ډول خاورې د اوبو او د هوا د نفوز د منني ډېره وړتیا لري.

د لوبیا د کښت له پاره ځمکه په داسې طریقې سره اماده شي چې د تېغ وهنې او زرغونیدلو له پاره غوره محیطي شرائط ولري . او اجازه ورکړي تر څو ریښې ښه وده وکړي او خوراکي عناصر په ډېره اسانۍ سره جذب کړي.

کله چې لوبیا په ګلانو پېل کوي باید منظم اوبه شي او همدارنګه د نبات په شاوخوا کې د اوبو د ډنډېدو څخه مخنیونې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حاصل د زیاتوالي له پاره دې عضوي او کېمیاوي سرې تطبیق شي عضوي سره (حېواني یا نباتي )دطېه کرلو څخه مخکې په ۱۰۰ متر مربع ساحه کې ۱۰۰۰ کیلو ګرامه واچول شي .کېمیاوي سره (NPK) په ۱:۳:۱ تناسب استعمال شي.

د هرزه بوټو د کنترول له پاره د لاس په واسطه للون کول تر ټولو ښه طریقه ګڼل کېږي . که چېرې وغواړو چې هر زه بوټي په پټي کې پیدا نه شي نو باید د فصل د کرنې څخه مخکې د Treflan ۰.۳-۰.۲ لیتره په یو جریب کې (استعمال شي نو د هرزه بوټو به څخه مخنیوې وشي).

د حاصل ټولول په مناسب وخت کې د حاصلاتو د زیاتوالي سبب ګرځي او حبوبات هغه وخت راټولېږي چې فزیولوژیکي پخېدو ته ورسیږي یعني کله چې یې وده ودرېږي .او همدارنګه د ګل د نیولو څخه ۱۷-۲۵ ورځې وروسته حاصلات ټولېږي.

شنه لوبیا خصوصا د اسیا په غرب کې د یو ګڼ شمېر ناروغیو تر اغېزې لاندې راځي او نوموړي نبات ته ډېر زیات زیانونه اړوي ، د سوځند یا بلایت ناروغي ، زنګ او د تنو نېماتودونه د ډېرو مهو ناروغیو څخه شمېرل کېږي.

یو ګڼ شمېر حشرې په لوبیا باندې حمله کوي چې له ډلې څخه ډېره مضره حشره مکسیکویي قانغوزک ده چې دا حشره د اول ځل له پاره په۱۸۶۴ م کال کې په امریکا کې تشخیص شوې ده.

دا حشره د شنو لوبیا او سپینو لوبیا څخه تغذیه کوی .د کیمیاوي موادو پواسطه کولائ شو چې په دواړو مرحلو (د لاروا یا بالغه حشره)کې یې له منځه یوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپارښتنې :

۱: په هېواد کې د لوړې د کمښت او د کرنې د رغنده پرمختګ له پاره د کرنې ټولې سکتورې( رونيزې ، څېړنيزې ، توليدي او پوريزې ) خواوې بايد په بنسټونو واړول شي . چې په ترڅ کېيې يوه رغنده سيالي منځ ته راشي او په هېواد کې د کرنې د متوازنې ودې سبب ګرځې .

۲: په هېواد کې بايد بزګر د وړتياوو په لوړولو پانګه اچونه وشي ، اړونده چارواکي د نوروپروګرامونوپه ترڅ کې د بزګر د مهارتي زده کړې په اړه په پاليسيو او پروګرامونو کې بايد له سره غور وکړي او د کرنې د راتلونکي پرمختګ له پاره د بزګر مهارتي روزنې ته پام راوګرځوي.

۳: د لوبيا نبات د کښت له پاره بايد ښه بستر اماده شي او ښه به وی چې د قطار په شکل وکرل شي .

۴:د زياتو نايتروجني سرو د استعمال څخه دې ډډه وشي ځکه چې د لوبيا نبات د زياتي نايتروجني سرې په مقابل حساس دی .او له بلې خوا دا کولای شي چې په خپله د نايتروجن اړتياوې څه نا څه پوره کړي.

۵:**هغه** خلک چې د غوښې څخه استفاده نشي کولای نو د پروټينو د پوره کولو لپاره دې د لوبيا څخه استفاده وکړي.

۶:لوبيا بايد په خام شکل سره ونه خوړل شي ځکه چې د هاضمې سېستم خرابوي.

۷: د لوبيا د لوړ قدو بوټو له پاره بايد پايې (تکيه ) ولګول شي .او د قطار په شکل دې وکرل شي تر څوچې د هرزه بوټو کنترول يې په اسانی سره وشي.

۸:همدارنګه کله چې سړه هوا او ګنګلونه په بشپړه توکه مات شي او خاوره توده شي د شنه لوبيا د کرلو له پاره مناسب وخت ګڼل کېږي.

۹:کله چې لوبيا په ګلانو پيل کوي بايد منظم اوبه شي او همدارنګه د نبات په شاوخوا کې د اوبو د ډنډېدو څخه مخنيونې وشي.

۱۰: د لوبيا مقاومې ورائټي بايد استعمال شي چې د ناروغيو او افتونو په مقابل کې مقاومت ولري او پېږړه پورې حاصل ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه :


۱: احمد ، نور احمد . غله جات و حبوبات .کال ۱۳۸۷ لمریز. وزارت معارف معینیت تعلیمات تخنیکیومسلکی ریاست انکشاف نصاب تعلیمی مدیریت تالیف کتب و تهیه مواد ممد درسی ص (۱۰۹-۱۰۱ ).

۲: خوږیاني . متین . محمد آقا ، سابه .کال ۱۳۷۹ لمریز .الازهر خپروندیه ټولنه.ص(۴۵-۴۶).

۳: دودیال . محمد بشیر . طبي بــوټي . اکال ۱۳۸۳ لمریز. لازهر خپروندیه ټولنه ، ص (۴۸-۴۷) .

۴: ډاډمن. محمـد اغا. سبو روزنه.کال ۱۳۹۰ لمریز.ختیځ خپروندویه ټولنه جلالکوټ.ص ( ۲۰۰- ۲۰۵).

۵: ډاډمن. محمـد اغا. غلې داني .کال ۱۳۹۱ لمریز. مومند خپروندویه ټولنه ننګرهار.ص ( ۱۶۳- ۱۸۷).

۶: رستکار . محمد علی . دیمکاری .کال ۱۳۷۸ لمریز . کتابخانه ملی ایران .ص ۳۶۲ .

۷: ریان . پوهیالې قسیم الله. د غلو تولید او روزنه لېکچر نوټ.کال ۱۳۹۲ لمریز . د کرنې پوهنځي شبخ زاید پوهنتون . ص (۱۱-۲).

۸: سید منتظر شاه ، د کرنیز کوپراتیف بنسټونه او د یو لړ مهمو نباتاتو د روزنې مهارتونه ، اسد دانشخپرندویه ټولنه ، کال ۱۳۸۹ لمریز ، مخونه (۷۲-۶۹).

۹: غفارزوی . دعوتیار . انجینر محمد اجمل . عمومي زراعت . چاپ کال نه لري. میهن خپدوندویه ټولنه .ص (۳۵۸).

۱۰: http:"danesnameh.roshd . Ir / mavara – index.

۱۱:File://G:\bean\Phaseolus vulgaris - Wikipedia, the free encyclopedia.htm


و من الله توفیق

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**